د افغانستان وضعیت

**اوس قربانیان څه کولی شي؟**

قربانیان کولی شي خپل نظریات د نړیوالې جنایي محکمې قاضیانو ته واوروي. د پای نیټه: ۱۱ دلو ۱۳۹۶ چې د ۲۰۱۸م د جنوري د۳۱مې نیټې سره سمون لري.

د نړیوالې جنایي محکمې د څارنوال دفتر د قاضیانو څخه د صلاحیت غوښتنه وکړه تر څو د هغه جنایتونو په هکله پلټنې او تحقیقات پیل کړي کوم چې د نړیوالې جنایي محکمې د قضایي صلاحیت په دائره کې د افغانستان په خاوره د ۱۳۸۲ کال د ثور د ۱۱ نیټې راهیسې چې د ۲۰۰۳ میلادی کال د می د میاشتې د ۱ نیټې سره سمون لري، پیښ شوي وي؛ یا نور جنایتونه ( لکه، کوم چې په افغانستان کې د وسلوالې جګړې او په افغانستان کې د وضعیت سره تړاو لري او د روم د تړون د غړو هیوادونو په خاوره د ۱۳۸۱ کال د سرطان د میاشتې د ۱۰ مې نیټې راپدیخوا چې د ۲۰۰۲ میلادی کال د جولای د ۱ نیټې سره سمون لري، ترسره شوي وي):

1. **د بشریت ضد جنایتونه او جنګي جنایتونه**، چه لاندې یاد شوي جنایتونه پکښې شامل دي لکه: عمدي قتل؛ زنداني کول یا د جسمي آزادی کوم بل ډول سلبونه؛ د سیاسي او جنسیتي لاملونو پر اساس ځورونه؛ پر مدني وګړو، مرستندویه کارکوونکو او یا خوندي ځایونو بریدونه؛ د ۱۵ کاله څخه د کم عمر ماشومانو جلب، ګومارل یا په جګړه کې کارونه؛ په غداری سره د مخالف جنګیالي وژنه یا ټپي کول، چې د **طالبانو یا هغوی سره د تړلو نورو وسلوالو ډلو لخوا** تر سره شوي وي.

2. **جنګي جنایتونه**، چې تعذیب، ظالمانه چلند، د چا پر شخصي عزت باندې تیری، او جنسي زوز زیاتی پکښې شاملیږی، چې د **افغان ملي امنیتي قواو لخوا** ترسره شوي وي.

3. **جنګي جنایتونه**، چې تعذیب، ظالمانه چلند، د چا پر شخصي عزت باندې تعرض، جنسي تیری او کوم بل ډول جنسي ځورونه پکښي شاملیږي، چې د **امریکې د متحدا ایالاتو د و سلوالو پوځونو یا د مرکزي استخباراتي اداري CIA دغړو لخوا** د افغانستان په خاوره، یا پولند، رومانیا او یا لیتوانیا کې تر سره شوي وي.

قربانیان کولی شی چې د نړیوالې جنایي محکمې قاضیانو ته ووایي چې ګواکې دوی غواړي د نړیوالې جنایي محکمې پلټنې ترسره شی یا تر سره نه شی، یا خپل نور نظریات راواستوي، چې دا ،،د قربانیانو اظهار،، بلل شوی دی. د قربانیانو اظهار به د قاضیانو سره مرسته وکړي تر څو پریکړه وکړي چې د پلټنو اجازه ورکړي او یا نه. قاضیان به هداشان د پلټنې د دائرې په هکله ستاسو په اندیښنو پوه شی کوم چې د څارنوال په غوښتنلیک کې یې یادونه شوې ده. لازمه نه ده چې قربانیان دا ثابته کړي چې جنایتونه تر سره شوي دي، دوی یوازې باید د هغه څه په هکله وضاحت ورکړي کوم چې دوی ته پیښ شوي دي.

***قربانیان څرنګه کولای شي چې خپل نظریات او اندیښنی د نړیوالې جنایي محکمې قاضیانو ته څرګندې کړي؟***

که تاسی ته د کوم جنایت په وجه چې د نړیوالې جنایي محکمې د صلاحیت په دائره کی وي، تاوان رسیدلی وي، نو مهرباني وکړئ او د قربانیانو اظهار پاڼه په خپله ډکه کړئ او یا کوم استازی غوره کړئ تر څو ستاسي لپاره یې ډکه کړي. د لاندې څخه یوازې یومیتود غوره کړئ:

1. آنلاین فورمه: اړتیا نه لرئ چې ډاونلوډ یې کړئ. د نړیوالې جنایي محکمې په ویب پاڼه کې دا فورمه ډکه کړئ، د لاسلیک خانه تأیید کړئ (عملي لاسلیک ته اړتیا نه شته) او بیا فورمه د انترنیت له لارې ولیږئ. په دغه ډول تاسي نه شی کولی اسناد یا شواهد ضمیمه را ولیږئ. د فورمې د لیږلو سره سم تاسي ته په اتوماتیک ډول د فورمې د لیږلو خبرتیا درکول کیږي.

2. پی ډی ایف فورمه: ډاونلوډ یې کړئ، چاپ یې کړي او په قلم سره یې ډکه کړئ او بیا یې د پوستي له لارې او یا د بریښنالیک له لارې ولیږئ ( د اړیکو تفصیلات لاندې یاد شوي دي). تاسې کولی شئ چې په دې ډول ضمیمه شواهد راواستوئ خو حتمي نه دي (لکه: طبی راپورونه، د عدلي طب را پوروڼه، د پولیسو یا محکمې اړوند شواهد، تصویرونه او فیلمونه او داسې نور...). که غواړئ چې د رسیدو په هکله یې اطمئنان ترلاسه کړئ نو مهرباني وکړئ، په خپل لیک یا بریښنالیک کې ولیکئ.

*تاسې کولی شی چه د بریښنالیک سره ډیر فایلونه ضمیمه ولیږئ. خو په یاد ولرئ چې یوازې د ۵ مګابایټ په حجم ضمیمه لیږلی شئ. مشوره داده چه خپل اسناد تور او سپین سکن (تصویر) کړئ او یاهم خړ رنګه، څکه په دې ډول تاسې کولی شئ چې د فایل حجم کوچنی کړئ (د رنګه سکن په پرتله). مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې که د بریښنالیک ضمیمه د ۵ میګابایټ څخه زیات وي، نو موږ ته نه شي رسیدلی.*

*د انترنت د بې ستونزې استعمال لپاره مشوره داده چې پاپ-اپ او اډ بلاکرز **pop-up and ad blockers** مو فعال نه وي.*

کله چې اظهارپاڼه ډکوئ نو لاندې ټکي په پام کې ولرئ:

- که امکان وي دا فورمه په انګلیسي ژبه ډکه کړئ.
- که کولی شی ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړئ، که مو اړتیا شوه د ،،معلوم نه دی،، یا ،،نه راجع کیږي،، کلمې وکاروئ.
- مطلب مو په دقیقه تو ګه وواياست او د فورمې ظرفیت په نظر کې ولرئ.
- که ستاسې عمر د ۱۸ کاله څخه لږ ويی نو یو استازی غوره کړئ ترڅو فورمه درته ډکه کړي.

د ټولو هغو وګړو څخه چې د څارنوال لخوا د په ګوته شوو جنایتونو له کبله اغیزمن شوي دي هرکلی کیږي تر څو اظهارپاڼه ډکه کړي، پرته که دې چې جنسیت، نژاد، ټبر، مذهب یا نور څه ته پام وشي.

د اظهارپاڼی تحویلول لګښت نه لري.

**انفرادي** قربانیان یا **ډله ایز** قربانیان کولی شي دا فورمه ډکه کړي. خو مهرباني وکړئ د یو قرباني یا یوې ډلې قربانیانو لپاره **یوازې یوه فورمه** ډکه کړئ.

***د یوې ډلې قربانیانو په استازیتوب اظهار***

که تاسې استازیتوب کوئ چې دا فورمه د یوې ډلې قربانیانو لپاره ډکه کړئ، مهرباني وکړئ د قربانیانو شمیر، دهغوی تابعت، نژاد، عمر، ژبه، اصلي استوګنځی او اوسنَی استوګنځی وښایاست. خو دا چې د امنیتي خطرونو څخه مخنیوی وشي، تاسې ته دا سپارښتنه کیږي چې د هغوی نومونه او لاسلیکونه مه استوئ. خو تاسې باید دا تاکید کړئ چې ټولو قربانیانو کوم چې تاسې ورته اظهارپاڼه ډکوئ، تاسې ته یې په دې هکله اجازه درکړې ده.

تاسې کولی شی خپله یې لاسلیک کړئ.

***امنیتي اندیښنې***

د قربانیانو خوندیوالی لومړیتوب لري. مهرباني وکړئ د مخنیوي تدبیرونه ونیسئ او خپله ښکیلتیا د نړیوالي جنایي محکمې سره مه یادوئ. همدا راز د هرهغه څه نه ډډه وکړئ چې تاسې یا نورو وګړو ته خطر پیښوي.

***ستاسې د اظهار پاڼې سره به څه کیږي؟***

هغه اسناد چې د قربانیانو څخه تر لاسه کیږي یوازې د نړیوالي جنایي محکمې قاضیانو ته استول کیږي. همداشان هغه په یو خوندي ډیټابیس کې ځای پرځای کیږي چې یوازې د نړیوالي جنایي محکمې مسئول کارکوونکي ورته لاسرسی لري. کیدی شی قاضیان پریکړه وکړي چې دا مالومات دې د نړیوالي جنایي محکمې د څارنوال سره شریک کړی

شي. نړیواله جنایي محکمه به د قربانیانو د نظریاتو او اندیښنو څخه یو راپور چمتو کړي؛ بشپړ راپور به د نړیوالي جنایي محکمې قاضیانو ته ولیږل شي، خو یو بل د نشر وړ راپور به عمومي کړی شي، تر څو **د پېژندنې وړ مالومات محرمانه وساتل شي.**

***آیا نړیواله جنایي محکمه به د هغو قربانیانو سره اړیکه ونیسي کوم چې اظهارپاڼه یې استولې ده؟***

په لوړ احتمال به په انفرادي ډول اړیکه و نه نیسي. د نړیوالې جنایي محکمې قاضیان به د قربانیانو نظریاتو او اندیښنو ته توجه وکړي او بیا به په دې هکله پریکړه وکړي چه آیا د پلټنو او تحقیقاتو د تر سره کولو اجازه او صلاحیت ورکړي او که نه، چې د هغه څه په بنسټ به دا پریکړه کوي چې قربانیانو دوی ته استولي دي او د څارنوال په غوښتنلیک کی یاد شوي دي. د ثبت اداره The Registry به قربانیانو ته د رسنیو او هغو استازو له لارې چې د قربانیانو لپاره یې اظهارپاڼې ډکې کړې دي، خبرتیا ورکړي چې آیا قاضیانو د پلټنې اجازه ورکړه او که نه.

---

***قربانیان وروسته څه کولی شي؟***

که د قاضیانو هیئت د پلټنې اجازه ورکړه، په هغه مرحله کې قربانیان کولی شي چې:

1) د یوه کس یا ډېرو کسانو پر خلاف د محاکمې په اجرائاتو کې د ګډون غوښتنه وکړي او خپل نظریات او اندیښنې د حقوقي استازي (وکیل) له لارې وړاندې کړي. او

2) که د نړیوالي جنایي محکمې د اجرائاتو په پایله کې څوک په جنایتونو باندې محکوم کړی شول، د معاوضې او تاوان غوښتنه وکړي.

هغه قربانیان چې اظهار پاڼې یې استولې دي په اتوماتیک ډول نه شي کولی چې د محاکمې په اجرائاتو کې، که تر سره شي، ګډون وکړي. دوی اړتیا لري چې په وروستیو پړاونو کې په جلا ډول داغوښتنه وکړي.

---

***د نړیوالي جنایي محکمې له نظره څوک ،،قرباني،، بلل کیږي؟***

قربانیان هغه اشخاص دي چې د کوم ضررله کبله ځوریدلي وي – دوی ته خپله پیښ وي او یا یې نږدې کورنۍ ته - چې د داسې کوم جرم او جنایت په وجه وي چې د نړیوالي جنایي محکمې په قضایی صلاحیت کې وي. دا ضرر کیدی شي جسمي یا عصبي ژوبلتیا وي، روحي ځوریدنه، اقتصادي تاوان وي یا هم اساسي حقونه تلف شوي وي.

همداشان اُرګانونه او مؤسسات هم قرباني بلل کیږي، کوم چې شتمني یې د کوم ځانګړي هدف لپاره اختصاص شوې وي (لکه مذهب، زده کړه، هنر، ساینس، خیریه یا بشري هدف، یا تاریخي آثار او روغتونونه) او د هغه جنایتونو له کبله ورته ضرر رسیدلی وي چې د نړیوالي جنایي محکمې په قضایي صلاحیت کې وي.

***د نړیوالي جنایي محکمې قاضیان به کوم ډول ضرر ته توجه وکړی؟***

په غالبه توګه به د نړیوالي جنایي محکمې قاضیان یوازې د وګړو جسمي ضرر ته پام نه کوي ، بلکه روحي ځوریدنه او مادي ضرر به هم په نظر کی ونیسی.

***د بشریت ضد جنایتونه کوم دي؟***

،د بشریت ضد جنایتونه، هغه کړني دي چې پرمدنی وګړوباندی د پراخ او سیستماتیک یرغل په حیث باندې، او په پوهه سره تر سره شي چې لاندې جنایتونه پکښی شامل دي: عمدي قتل؛ انسان وژنه؛ مریيتوب؛ د هیواد نه ایستنه او یا د وګړو جبري لیږد؛ زندانول؛ تعذیب؛ جنسي تیری، جنسي مریيتوب، جبری فحاشي، جبري حاملګی، جبري تعقیم او نور داسې جنسي جرمونه چې په همدې اندازه درانه وي؛ د یوی ډلې ځورونه چې د سیاست، تابعیت، نژاد، قوم، کلتور، مذهب او جنسیت ځانګړتیاوې ولري، د هماغه ځانګرتیاوو له کبله؛ د افرادو نادرکه کول، د نژادي تبعیض جنایتونه؛ نورې غیر انساني قصدي کړنې چه دې ته ورته وي او د غټې جسمي او روحي ځوریدنې لامل وګرزي.

***جنګي جنایتونه کوم دي؟***

،جنګی جنایتونه، د ژنیو د تړون ماتول او د د نورو هغه قوانینو څخه سرغړاوی دی چې په بین المللي وسلوالو جګړو کی نافذ دي، یا په داسی جګړو کې چه هغه ځانګړتیاوې ونه لري چې د روم په تړون کې شاملې شي، او سرغړونې د یوه پلان یا پالیسي پراساس ترسره شي او یاهم په لویه کچه تر سره شي. لاندې هغه ممنوعه کړنې دي چې په جنګي جنایتونو کې شاملیږي: عمدی قتل؛ تخریب؛ ظالمانه کړنې او تعذیب؛ انسان تښتونه؛ پر مدنی وګړو باندې قصدي بریدونه؛ پرهغه ودانیو باندی قصدي بریدونه چې د مذهب، زده کړې، هنر، ساینس یا خیري هدف لپاره وقف شوې وي، یا تاریخی اثرونه وي او یاهم روغتونونه؛ غلا او لوټول؛ جنسي تیری، جنسي مریيتوب، جبري حاملګی یا کوم بل ډول جنسی زور زیاتی؛ د ۱۵ کالو څخه د کم عمر ماشومان په وسلوالو ملې قواو یا وسلوالو ډلو کی ګومارل او یا هم په جګړه کی ورڅخه کار اخیستل.

***اړیکی***

که غواړئ چې اظهارپانه په کاغذي ډول راولیږی او یا کومه پوښتنه لرئ نو مهرباني وکړئ د نړیوالې جنایي محکمې د متضـررینو د ګډون او معاوضې دفتـر ته یی په لاندې پوستی آدرس ولیږئ:

Victims Participation and Reparations Section (VPRS)
International Criminal Court
P.O.  Box 19519, 2500 CM, The Hague, The Netherlands

VPRS.representations@icc-cpi.int